هېواد
۴ مخ

# مسير
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۱مه | ٤٦٠مه ګڼه


## فلسطين

کرنه د دغه هېواد د اقتصاد مهم سکټور بلل کېږي او ٦٦ سلنه ناخالص کورني تولیدات او ۲۵ سلنه صادرات هم له همدې سکټور څخه لاسته راوړي.



# د ټاکنو برخليک؛

## عبدالله عبدالله: د ټاکنو پایله نه منم، د بحران مسوول به ولسمشر غني وي



۳

### د ټاکنيزو ناندريو د حل لپاره د ملګرو ملتونو د فعال رول اړتيا

۲ مخ

### د اوبو د تنظيم د نوي قانون ارزونه

۲ مخ

### ايا نيل سيند به د اوبو پر سر د جګړې ډګر شي؟

۳ مخ

## امريکايي رسنۍ: امريکايي پوځ افغان جګړې ته تر ټولو سترې پوځي الوتکې استولې دي

په داسې حال کې چې افغان حکومت وايي، په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو ماموريت يوازې د افغان ځواکونو تر روزنې او مشورې محدود دی، يوې امريکايي رسنۍ ويلي، امريکايي پوځ افغان جګړې ته داسې الوتکې استولې چې تر دې مهاله په دې جګړه کې نه دي کارول شوې. د ستار اينډ سترايپس مجلې د راپور پر اساس، د (AC -۱۳۰ ګوسټ رایډرز) په نوم دغه الوتکې چې پر لايزري وسلو سمبال دي، تر ټولو سترې جنګي الوتکې بلل کېږي او د مخالفينو پر ضد په عملياتو کې خورا برياليۍ دي. دغو الوتکو ته د اسماني ارواح نوم ورکړل شوی او امريکايي چارواکو ويلي، پرطالبانو د پوځي فشار له زياتېدو وروسته کابو هره شپه د افغانستان پر فضا الوتني کوي. يادې مجلې ويلي: «د AC -۱۳۰ ګوسټ رایډرز په نوم دغه الوتکې چې د اسماني ارواح نوم ورکړل شوی، د لايزر پر سيستم عيار بمونه کارولای شي او په خورا لوړه ارتفاع کې الوتل کوي. دغه الوتکې ډېرې سترې او د هر ډول وسلو د انتقال ظرفيت لري، د طالبانو پر ضد د عملياتو له زياتېدو وروسته کابو هره شپه د افغانستان پر هوايي حريم الوځي او د ځمکني پوځ د حمايې لپاره ګټورې ثابتې شوې دي». په ورته وخت کې که څه هم ملي دفاع وزارت په دې تړاو څه نه دي ويلي، خو يادې مجلې ته ځينو افغان امنيتي چارواکو ويلي چې دغه الوتکې د مخالفينو د ځپلو او افغان ځمکني او هوايي پوځ د ملاتړ لپاره تر ټولو زياتې ګټورې دي.

د چارو شنونکي وايي، د ملکي تلفاتو د زياتېدو يو لامل د بهرنيو ځواکونو له خوا په جګړه کې د دغه راز درنو وسلو استعمال دی او بهرنيان لاهم په هوايي عملياتو کې خلاص لاس لري.

## د ټاکنو ناڅرګند برخليک پر سوداګرۍ ناوړه اغېزه کړې ده



۵ مخ

## کرنې وزارت: د جلغوزيو په حاصلاتو کې ۱۲ سلنه ډېروالی راغلی دی



کرنې وزارت ويلي چې د تېر کال په پرتله د جلغوزيو په حاصلاتو کې ۱۲ سلنه زياتوالی راغلی دی.
د ياد وزارت وياند اکبر رستمي ويلي، سږ کال تر دې دمه ۲۴ زره مټريک ټنه جلغوزي توليد شوي چې د تېر کال په پرتله ۱۲ سلنه ډېروالی ښيي. د هغه په خبره، کرنې وزارت په دې وروستيو کې په ځينو ولايتونو، په ځانګړې توګه په پکتيا او پکتيکا کې په ځنګلونو کې نوي نيالګي هم کېنولي او دا پروسه دوام لري.
نوموړي دغه راز زياته کړې، د هوايي دهلېزونو له لارې چين ته د يادې وچې مېوې صادرات روان دي او په نړيوال بازار کې يې هم ښه مارکېټ موندلی دی.
د يادونې ده چې جلغوزي د افغانستان د وچو مېوو له ډلې دي چې په نړيوالو بازارونو کې يې اوسمهال مارکېټ د پخوا په پرتله ډېر ښه شوی دی.

## ارگ: نام‌های شرکت‌کننده‌گان نشست چین با بیجینگ شریک شده‌است



ارگ ریاست‌جمهوری می‌گوید که نام‌های اعضای هیئت شرکت‌کنندۀ نشست میان افغانان در بیجینگ را با حکومت چین درمیان گذاشته‌است.
صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور نام‌های اعضای این هیئت را همه‌گانی نمی‌سازد و می‌گوید تا هنگامی که زمان برگزاری نشست میان افغانان در چین روشن نشود، نام‌های اعضای این هیئت همه‌گانی نخواهد شد. در حالی که زمان مشخص برگزاری نشست بیجینگ مشخص نشده‌است، اما منابعی در ریاست‌جمهوری می گویند که احتمال دارد نشست میان افغانان در چین به روز بیست و یکم ماه نوامبر برگزار شود.
صدیق صدیقی می گوید که هیئت شرکت کنندۀ نشست چین، یک هیئت همه‌شمول خواهد بود و پس از رأی‌زنی با احزاب و جریان‌های سیاسی ساخته شده‌است. وی افزود: «به باور ما، یک مقدار قبل از وقت است که ما این لیست را همه‌گانی بسازیم. در پهلوی آن علاقمندی یک تعداد افراد و اشخاص هستند که می‌خواهند در این نشست شرکت کنند که این هم یک کار خوب است و ما هم تلاش کرده‌ایم که لیست ما یک لیست همه شمول باشد». منابعی در ریاست‌جمهوری می گویند که شمار اعضای هیئت شرکت کنندۀ در نشست چین میان پانزده تا بیست تن خواهد بود. در عین حال شهزاده مسعود، فعال سیاسی گفته است: «لیستی که در اول نوامبر تهیه شده بود، یک لیست خوب بود و به چینایی‌ها هم سپرده شده بود و تا جایی که من با خبر هستم، طالبان هم آن لیست را قبول کرده بودند، اما پسان در آن لیست دست کاری شده بود و همین سبب شد که این نشست به تأخیر بیافتد».


if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریځ

### د ټاکنیزو ناندریو د حل لپاره د ملګرو ملتونو د فعال رول اړتیا

د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس او د ولسمشرۍ د ټاکنو نوماند عبدالله عبدالله وایي، د ملي ګټو لپاره باید پاکې رایې له ناپاکو بېلې او وروسته د رایو د بیاشمېرنې بهیر پیل شي. عبدالله چې د یکشنبې په ورځ یې په کابل کې د لویې جرګې په خیمه کې د خپلو پلویانو یوې غونډې ته وینا کوله وویل، چې د ټیم څارونکي یې د رایو د بیاشمېرنې په بهیر کې ګډون نه کوي او د هغوی له ګډون پرته د ټاکنو د پایلو په تړاو د ټاکنو د کمېسیون هر راز پرېکړه غیر قانوني ده. عبدالله وویل چې په ۲۰۱۴ ز کال کې یې د ملي ګټو لپاره انعطاف وکړ، خو اوس د ملي ګټو غوښتنه دا ده چې نا پاکې رایې باید باطلې اعلان شي او ګواښ یې وکړ چې دا ځل به انعطاف ونه کړي.

د رایو د بیاشمېرنې له بهیر سره د دریو مخکښو ټیمونو پرېکون د ټاکنیز کړکېچ پیل دی، چې تر لا ژورېدو وړاندې یې باید مخه ونیول شي، ځکه هېواد په دې ترینګلو حالاتو کې د نظام د سقوط تر بریده له سترو ننګونو سره مخ کولی شي. د ټاکنیزو اړخونو ترمنځ بې باورۍ د ټاکنو پروسه له بشپړې ناکامۍ سره مخ کړې ده. که د ټاکنیزو ټیمونو له ګډون پرته د رایو بیاشمېرنه تر سره کېږي او کمېسیون تر تفتیش وروسته د ټاکنو پایلې اعلانوي، د دې پایلو د منلو شونتیا نشته. له همدې کبله پکار ده چې د پایلو تر اعلان وړاندې، د ټاکنو د تر سره کوونکو بنسټونو او ټاکنیزو ټیمونو ترمنځ رامنځته شوې بې باوري له منځه ولاړه شي او په دې ډول افغانان د ۲۰۱۴ ز کال د ولسمشرۍ ټاکنو د پایلو د نه منلو لوبې د ترخې تجربې له تکرار څخه وژغورل شي.

که په ټاکنو کې د ښکېلو افغان اړخونو ترمنځ بې باوري تر دې بریده وي، چې منځګړیتوب ته اړتیا پیدا کوي، ملګري ملتونه باید مداخله وکړي. په کابل کې د ملګرو ملتونو دفتر چې تر ډېره په ټاکنیزو چارو کې ښکېل هم دی، باید را وړاندې شي او د بې طرفانه رول په لوبولو سره ټاکنیز ټیمونه د ټاکنو د مشروع او رښتینو پایلو منلو ته وهڅوي. یوناما کولی شي چې د یوه بې طرفه منځګړي په توګه تر نورو په دې برخه کې ښه رول ولوبوي. د یوه نړیوال بنسټ په توګه چې د ټولو هېوادونو استازولي کوي، ملګري ملتونه مسوولیت هم لري چې له یوه بل سیاسي بحرانه د افغانستان په ژغورلو کې فعال رول ولوبوي. ټاکنیز ټیمونه هم که پر ټاکنیزو بنسټونو باور نه لري، د ملګرو ملتونو رول ته باید درناوی وکړي او هر څوک چې د ټاکنو مشروع ګټونکی وي، له هر راز سیاسي مزاحمت او سرخوږي پرته یې د دولت د مشر په توګه ومني او په خپله د قانون په چوکاټ کې د یوه برېالي اپوزیسیون رول ادا کړي. په یوه ناکام شریک حکومت کې تر کاره د یوه برېالي او کارا اپوزیسیون رهبري کول غوره دي.

# د اوبو د تنظیم د نوي قانون ارزونه

لیکنه: برکت الله آریوبي

د اوبو د تنظیم د قانون مسوده د روان کال د لړم میاشتې په اتمه نېټه ولسي جرګې تصویب کړه او تمه ده چې د مشرانو جرګې تر تصویب او د ولسمشر له توشیح وروسته نافذ شي.

کابو هر هېواد د خپلو اوبو تنظیم او مدیریت ته په ملي کچه قانون یا د اوبو کوډ لري چې د اوبو تنظیم او مدیریت پکې په حقوقي چوکاټ کې توصیف او تعریف شوی وي.

په افغانستان کې په لومړي ځل د طالبانو له اسلامي امارته مخکې په ۱۹۹۱ ز کال کې د اوبو قانون تصویب شو. له دې مخکې په هېواد کې د اوبو مسایل په جدي توګه نه وو مطرح شوي او دا په داسې حال کې ده چې زموږ ګاونډیو، په ځانګړي ډول ایران، ډېر پخوا د خپلو اوبو د منابعو مدیریت ته حقوقي چوکاټ جوړ کړی و. پاکستان چې په ۱۹۴۷ ز کال کې رامنځته شو، له ۱۹٦۰ ز کال مخکې یې د اوبو په اړه قانون او پالیسي رامنځته کړه چې د همدې حقوقي چوکاټ په رڼا کې یې له هند سره پر اباسین (اندوس سیند) هوکړه لاسلیک کړه. د منځنۍ آسیا جمهوریتونو، چې له ۱۹۹۰ ز کال وروسته رامنځته شول، د اوبو په اړه حقوقي اډانه وروسته ایجاد کړه. په هېواد کې د اوبو لومړني قانون ۵۴ مادې او اووه څپرکي درلودل. په لومړۍ برخه کې یې د اوبو څښتنان خلک بلل شوي وو او دولت یې ترمخه مکلف و چې د اوبو د منابعو حفاظت او ساتنه وکړي. همداراز د دې موادو له مخې ټول ارګانونه ( دولتي او خصوصي)، سیاسي او اداري، مکلف وو چې اوبه د همدې قانون او رایج عرف له مخې مدیریت او تنظیم کړي.

په دویم څپرکي کې د اوبو د منابعو مدیریت د حکومت دنده بلل شوې وه او د کرنې سکټور ته د ځانګړې کچې اوبو بېلولو پکې ویل شوي وو. د دې فصل د موادو له مخې، دولت باید د زراعتي سیسټم د پیاوړتیا لپاره کافي اوبه ځانګړې کړې وای او د اوبو په برخه کې بنسټیزې پروژې یوازې د دولت له تایید وروسته تطبیق کېدای شوې. په دریمه برخه کې یې د حقابې مشخص میکانېزم توصیف او تعریف شوی و، چې پکې د زراعت، ځمکې خاوندانو او په محلي کچه د اوبو د کاروونکو لورو حقابې تعریف شوې وې.

د دې قانون په څلورمه برخه کې د غیر زراعتي موخو لپاره د اوبو ځانګړې کول راغلي وو چې له مخې یې اوبه څنګه د څښاک، صنعت، بنسټیزو پروژو او نورو لپاره وکاربري. پنځمه برخه یې د اوبو منابعو حمایت او حفاظت ته ځانګړې شوې وه؛ په ځانګړې توګه دې ته چې دولت به د اوبو د منابعو د ککړېدو مخنیوي ته لازم چمتووالی نیسي. شپږمه برخه یې د اوبو له منابعو راپورته کېدونکو شخړو ته ځانګړې شوې وه او د هواري میکانېزم یې تعریف کړی. همداراز د هغو اشخاصو مجازات پکې پیشبیني شوي وو چې د نورو وګړو د اوبو حق ته صدمه رسوي. وروستني فصل یې دوې مادې درلودې چې نهایي احکام پکې ذکر شوي وو.

د اوبو اوسنی (نافذ قانون) په ۲۰۰۹ ز کال کې د ملي شورا تر تصویب وروسته عملي شو. دغه قانون شپږ څپرکي او ۴۰ مادې لري چې په لومړي فصل کې یې عمومي حکمونه راغلي، په دویم فصل کې د اوبو د سرچینو د کارولو تنظیم او اداره، دریم څپرکی یې د سیندي حوزو، ادارو او شوراګانو ته ځانګړی شوی، څلورم هغه یې د اوبو کارولو ته ګوښی شوی، پنځم یې د اوبو سرچینو ساتنې او شپږم څپرکی یې د اختلافاتو د حل څرنګوالي ته ځانګړی شوی دی.

**ولې نوی قانون؟**

له لسو کالو تنفیذ وروسته د دغه قانون د تعدیل ډېره اړتیا لیدل کېده. د اوبو نافذ قانون لږ تر لږه لاندې نیمګړتیاوې لري: د اوبو مالکیت د څو ادارو په لاس کې دی، د اوبو د منابعو په مدیریت کې وظیفوي تداخل، تشکیلاتي پړسوب او تیت پرک والی، د وخت او بودجې ضایع کېدل، د قانون تطبیق ته د میکانېزمونو نشتون، د اوبو اقتصادي ارزښت ته نه پام، د اوبو په تخصیص کې د لومړیتوبونو نه مشخص والی، د اوبو د منابعو په مدیریت کې د خصوصي سکټور ونډې ته نه پام، د قانون د متن ګونګوالی او پېچلتوب، د قانون په مادو کې د تسلسل او انسجام نشتون، د اوبو منابعو په مدیریت کې د محلي نهادونو کثرت او داسې نورې ستونزې وې چې بالاخره حکومت په ځانګړې توګه د اوبو او انرژۍ وزارت اړ شو چې د دغه قانون د تعدیل طرحه چمتو او ملي شورا ته یې د تصویب لپاره ولېږي.

د تعدیل طرحه یې د اوبو او انرژۍ وزارت په ځانګړې توګه د اوبو د حقوقو ریاست طرحه او مسوده یې له تدقیق وروسته ملي شورا ته استول شوې ده.

که د اوبو نافذ (۲۰۰۹) قانون او د اوبو چارو د تنظیم اوسنی قانون سره پرتله کړو، نو په لنډو ویلای شو چې لاندې موارد یې د توپیر ټکي دي.

د نوي قانون په طرحه کې لاندې بدلونونه راغلي:

د (انرژۍ او اوبو وزارت) نوم یې پر (اوبو او انرژۍ وزارت) بدل کړی؛

د(اراضۍ، اوبو او چاپېریال ساتنې عالي شورا) یې پر (اوبو، اراضۍ او چاپېریال ساتنې شورا) اړولې؛

د یوه قوي اداري ارګان رامنځته کول چې (د اوبو د چارو تنظیمووونکې اداره) نومول شوې ده؛

د اوبو لګولو، اوبو رسولو، میراب سیسټم، د اوبو په نوې بڼه کارول، په واحده اډانه کې د اوبو د منابعو د مدیریت په موخه د اوبو د کارکوونکو انجمنونو مدغمول؛

د شاوخوا ۲۰ نویو مقرراتو وضع کولو تجویز ورکړل شوی، څو د اوبو د منابعو تنظیم په ښه ډول وشي؛

د اوبو چارو ښه تنظیم په موخه یې د اوبو د قواعدو او مقرراتو مجموعه د (اوبو کوډ) پیشبیني کړی؛

د اوبو د خدماتو قیمت اېښودل؛

د اوبو د منابعو د تخصیص لومړیتوبونه په ګوته کول؛

په افغانستان کې د اوبو تنظیم او مدیریت عنعنوي سیسټم پر معیاري هغه بدل شوی؛

د رسمي او خصوصي سکټور له لوري له اوبو څخه د ګټې اخیستلو په اړه د موافقې او اجازې اخیستنه یې تجویز کړې؛

د اوبو د منابعو د تنظیم په موخه یې خصوصي سکټور ته د پانګه اچونې زمینه برابره کړې ده.

د نوي قانون مسوده شپږ برخې لري چې لومړۍ برخه یې عمومي احکام، دویمه برخه یې ښه حکومتولي، دریمه هغه یې د اوبو د منابعو تنظیم، څلورمه یې د اوبو د تنظیم او توضیع میکانېزم؛ پنځمه برخه یې د اړوند او ذیدخلو ادراتو همغږۍ ته ځانګړې شوې او آخرنۍ برخه یې متفرقه احکامو ته بېله شوې چې منازعات، د سیند حریم، جرایم او مجازات او د مقرراتو وضع کولو تجویز یې مهمې برخې دي.

لومړی فصل یې عمومي حکمونو ته ځانګړی شوی چې د قانون طرح کولو اهداف پکې بیان شوي، تخنیکي اصطلاحات پکې تعریف شوي او له اوبو د ګټې اخیستلو قانوني اصول یې په لاندې توګه بیان کړي:

الف) پاکو او صحي اوبو ته د لاسرسي حق؛

ب) د اوبو د منابعو هر اړخیز مدیریت(IWRM)

ج)له اوبو د ګټې اخیستنې لومړیتوبونه؛

همدا راز د دې قانون پلي کولو اصلي مرجع یې د اوبو او انرژۍ وزارت ښودلی دی.

دویمه برخه یې د اوبو ښې حکومتولۍ ته ځانګړې شوې چې لاندې نهادونه پکې شامل دي:

الف) د اوبو، اراضۍ او چاپېریال ساتنې شورا؛

ب) د اوبو او انرژۍ وزارت؛

ج) د سیندي حوزې عمومي شورا؛

د) د سیندي حوزې فرعي شورا؛

هه) د اوبو ګټه اخیستونکو اتحادیه؛

ک) میراب سیسټم.

دریمه برخه یې د اوبو د منابعو تنظیم ته ګوښې شوې چې پر لاندې موارد یې بحث کړی:

الف) د اوبو د منابعو پلان جوړونه؛

ب) د اوبو له منابعو مؤثره او اقتصادي ګټه اخیستنه؛

ج) د اوبو د خدماتو عرضه چې په زراعتي، سیاحتي، چاپېریال ساتنې، انرژۍ تولید، کښتۍ چلولو او نورو برخو کې پرې بحث شوی.

څلورم څپرکی یې د اوبو د توضیع او تنظیم میکانېزم ته ځانګړی شوی:

د څښاک اوبو د استفاده کولو میکانېزم؛

د زراعتي اوبو د استفادې میکانېزم؛

د صنعت، معدن او کب روزلو په موخه د اوبو د استفادې میکانېزم؛

د چاپېریال ساتنې په موخه له اوبو د استفادې میکانېزم؛

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په مرسته د سیاحت لپاره د اوبو د استفاده کولو میکانېزم؛

هغه پوله تېربدونکې اوبه چې په معاهداتو کې نشته، په جلا مقرره کې تنظیمېږي؛

د څو اړخیزې استفادې لپاره د اوبو میکانېزم؛

د فاضله اوبو د تخلیې میکانېزم؛

پنځمه برخه یې د اداراتو او نهادونو ترمنځ همغږۍ ته ځانګړې شوې چې د اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، معادن او پترولیم وزارت، صنعت او تجارت وزارت، ښارجوړونې وزارت، ښاروالۍ او نورې اړوند اداري مکلفې دي چې د اوبو د اړوندو فعالیتونو چارې له اوبو او انرژۍ وزارت سره په همغږۍ تنظیم کړي.

شپږم څپرکی یې متفرقه احکامو ته ځانګړی شوی چې پکې لاندې مسایل ارزول شوي دي:

الف) له اوبو څخه د رامنځته کېدونکو منازعاتو حل؛

ب) د اوبو د منابعو د بستر او حریم خوندیتوب؛

ج) د اوبو د منابعو کود یا قانون؛

د) د اوبو د منابعو د تنظیم په موخه د مقرراتو او طرزالعملونو وضع کول.

سره له دې چې د اوبو د تنظیم قانون تر اوسه نافذ نه دی، خو تمه ده چې د مشرانو جرګې تر تصویب وروسته یې ولسمشر ژر توشیح او په دې توګه په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته نافذ شي. دا قانون به د اوبو د مدیریت په برخه کې واضح او روښانه لیدلوری رامنځته کړي او په واحده اډانه کې به اوبه مدیریت شي؛ د اړوندو ارګانونو ترمنځ همغږي به لا زیاته او په پای کې به د اوبو د منابعو مدیریت په سازماني بڼه اداره شي(چې پکې واک او صلاحیتونه غیرمتمرکز کېږي او د ټولنې ټول وګړي او قشرونه د اوبو د منابعو په مدیریت کې ونډه لرلی شي).

له ډېرو ښېګڼو سره سره دا قانون ځینې نیمګړتیاوې هم لري چې مهمې هغه یې دا دي: د اوبو د استعمال لپاره د محدودیت نشتوالی؛ هغه څه چې په نافذ قانون کې ورته واضحه اشاره شوېده؛ د اجرایوي ضمانت نشتوالی او د ځینو کلماتو ګنګوالی، د ډېرو مقررو پیشبیني چې په پایله کې یې د قانون ماهیت تر پوښتنې لاندې راوستی او داسې نور یې مهم هغه دي. همداراز د دې قانون د تطبیق په مخ کې جدي خنډونه هم شته چې عبارت دي له: د کافي سازماني ظرفیت نشتون، د عیني شرایطو نه مساعدتیا، روانه ناامني اوبې‌ثباتي، د عامه پوهاوي نشتوالی، د منسجمو اداري نهادونو رامنځته کولو پر وړاندې خنډونه، بې ځایه اداري پېچلتیاوې، د افغانستان په پرمختیایي ستراتیژۍ کې د اوبو سکټور ته ډېر اهمیت نه ورکول او داسې نور.

په ټوله کې د افغانستان اوبو د منابعو د منسجم او واحد مدیریت لپاره د دې قانون تصویب ښه زیری دی، خو دا د کار پای نه دی؛ حکومت ته پکار ده چې د هغو خنډونه د لرې کولو په موخه کوټلي ګامونه واخلي، چې د دغه قانون د تطبیق پر وړاندې شته او په دې توګه د قوانینو او پالیسیو عملي تطبیقي اړخ ته اړین پام وکړي.

## اعتراض کوونکي: مالیې وزارت مو د ساختماني شرکتونو لس میلیارده افغانۍ خنډولې دي

د ځینو ساختماني شرکتونو استازو ویلي، د هېواد په ناامنو سیمو کې پر دولتي پروژو کار کوي، خو مالیې وزارت یې له شاوخوا اتو میاشتو راهیسې لس میلیارده افغانۍ خنډولې دي.

هغوی چې شمېر یې شاوخوا ۸۰ کسانو ته رسېده، تېره ورځ د مالیې وزارت مخې ته د اعتراض په توګه راټول شوي وو.

له دغو کسانو د سعادت خان په نوم یوه کس چې د نورو په استازیتوب یې خبرې کولې، ویلي: «اته میاشتې کېږي چې موږ له دولت سره د ترانسپورټ، پوهنې او انکشاف دهات په برخه کې کار کړی، له اړوندو ادارو څخه حوالې او تخصیصونه راغلي، خو په وزارت مالیه کې په میاشتو میاشتو پرتې دي؛ نو ځکه دغه شرکتونه سره راټول شول او د خپل حق غوښتنه کوي».




هغه دغه راز زیاته کړې: «تقریباً له لس میلیارده افغانیو زیاتې یا کمې پیسې دي، چې وزارت مالیه یې قرض دار دی. دغه پروژې د ښوونځیو، استنادي دېوالونو، سړکونو او نورو برخو لپاره دي».

د اعتراض کوونکو له ډلې د محمد ضمیر په نوم یوه بل کس ویلي چې دغه شرکتونه د هېواد د بېلابېلو ولایتونو په ناامنو سیمو کې پر دولتي پروژو کار کوي.

د ده په خبره، د دغو پروژو له ۸۰ تر ۹۰ سلنه چارې پر مخ تللې، خو مالیې وزارت یې یوازې له لسو تر ۲۵ سلنه پیسې ورکړې دي.

هغه زیاته کړې چې شرکتونه له حکومته د تر سره شوي کار پیسې غواړي او که دغه کار ونه شي، نو د پروژو کارونه دروي او لاریونونه کوي.

مالیې وزارت په رسمي توګه د دغو اعتراض کوونکو د غوښتنو په تړاو څه نه دي ویلي.

# ایا نیل سیند به د اوبو پر سر د جګړې ډګر شي؟

بي بي سي- پښتو

په افریقا کې د بي بي سي خبریال الیسټر لیتهډ ویلي، که ایتوپیا له مصر او سوډان سره هوکړې ته ونه رسېږي، نو ښایي پر نیل سیند یو نوی برېښنا بند د اوبو پر سر د جګړې پیلامه شي.

تر ډېره ویل کېږي چې بل نړیوال جنګ به د اوبو پر سر وي او هغه هم په داسې مهال کې چې په دې برخه کې د نیل سیمه تر ټولو ډېره لانجمنه ده.

مصر او ایتوپیا پر دې مسئله ډېر سخت اختلاف لري. سوډان یې په منځ کې دی او د نړۍ تر ټولو ستر سیند (نیل) په غاړه ستر جیوپولیټیک بدلون هم پېښېږي.

پر نیل سیند د برېښنا بند جوړولو خبره له کلونو راهیسې روانه ده، خو ایتوپیا یې هغه مهال چارې پیل کړې، چې عرب پسرلی پیل شو او په مصر کې کورنۍ لانجې وې.

د فرعون د خولې خبره ده، چې مصر د نیل ډالۍ ده او د دې سیمې خلکو دا سیند د خدایي په کچه نمانځه.

زرګونه کاله کېږي چې مصر په پراخه توګه په سیمه کې نفوذ درلود، خو اوس د ایتوپیا لوړ خیالونه د دې وضعیت بدلون ښیي.

کم شمېر افریقایي هېوادونه په راتلونکو ۳۰ کلونو کې د دې وچې د وګړو له دوه برابره کېدو سره د مقابلې لپاره ځانګړي پلانونه لري.

په ایتوپیا کې له دې او سیاسي ننګونو او له کمې ازادۍ سره سره دا هېواد صنعتي سیمې جوړوي چې خپل ځان په سیمه کې پر برلاسي او د منځني پوړ پر هېواد بدل کړي، ځکه یې برېښنا ته هم اړتیا زیاتېږي.

ټاکل شوې ده چې د نړۍ یو تر ټولو ستر د برېښنا بند او د افریقا تر ټولو ستر هایدروالیکټریک برېښنا بند دا ستونزه هواره کړي.

خو د ایتوپیا په لوړو کې د نیل سیند ۸۵ سلنې بهېدو مصر اندېښمن کړی چې ممکن سیال یې د دې سیند د اوبو واک خپل کړي.

د ایتوپیا د اوبو، برېښنا او اوبخور وزیر سلشي بکل ویلي، دا یې د هېواد یوه مهمه پروژه ده. نوموړي زیاته کړې: «د اوبو کنټرولولو مسئله نه ده، بلکې داسې چانس برابرول دي چې ورسره برېښنا پراخه کړو او د هېواد له ودې سره مرسته وکړي. دا کار به د نیل په غاړه نورو هېوادونو ته هم ډېره ګټه ورسوي».

د ایتوپیا رنسانس برېښنا بند د پولې په څو کیلومترۍ کې دی او اوس نور جوړ شوی، بل پړاو یې د برېښنا جنراتورونو لګول دي چې د ارزانه او نوېدونکې برېښنا بهیر په تارونو کې روان شي. برېښنا بندونه په ورته مهال د سیندونو بهیر هم منظموي.

دمګړۍ په سوډان کې د سیند د اوبو لوړه او ټیټه کچه اته متره ده او دې مسئلې د سوډان لپاره کرنه سخته کړې ده. خو که نیل ته هر ګواښ کېږي، د مصر د خپلواکۍ لپاره ګواښ بلل کېږي.

په جرمني کې یوه مصري څېړونکې راویه توفیق وایي: «د برېښنا بند جوړول د لوبې ډګر بدلوي او په سیمه کې نوی نظم جوړوي. اول ځل ایتوپیا چې نیل سیند ترې سرچینه اخلي، خپل هېوادنی فزیکي ځواک یې له خپل اړین اقتصادي ځواک سره د یوه برېښنا بند لپاره یو ځای کړی دی».

د مصر د اوبو د سرچینو وزیر محمد عبدالعطي بیا ویلي: «موږ د سل میلیونه خلکو د ژوند مسوول یو. موږ ته رسېدونکې اوبه که یوه سلنه هم کمې شي، په نتیجه کې یې د اتیا زره هکتاره ځمکې حاصل له لاسه ورکوو. دا په دې مانا چې نږدې یو میلیون کسان بې کاره کېږي. دا د نړیوال کړکېچ مسئله ده».

هایدروالکټریک برېښنا بندونه اوبه نه مصرفوي، خو په څومره چټکتیا سره چې ایتوپیا غواړي، په دغه بند کې اوبه ټولې کړي، د اوبو پر بهېدو اغېز کوي.

ایتوپیا غواړي ژر تر ژره د برېښنا تولید پیل کړي، خو اول باید ډنډونه له اوبو ډک کړي او دا کار ډېر وخت غواړي.

که ټاکل شوې وي چې دا ډنډونه په دریو کلونو کې ډک شي، بیا هم د اوبو بهېدل اغېزمنوي، خو که له دې په ځنډ یا شپږ- اوو کلونو کې ډک شي، د اوبو بهېدل ډېر نه اغېزمنېږي.

په دې برخه کې د مصر او ایتوپیا ترمنځ خبرې هم ښه پرمختګ نه کوي.

خبرې د بند د جوړولو د اغېز ارزولو ته نه دي رسېدلې، یوازې د اغېز د ټاکلو تر لارو چارو محدودې دي.

سوډان او مصر هم له اوبو د سوډان د کار اخیستو پر اندازه او له بند جوړېدو وروسته د دې اندازې د زیاتېدو پر سر اختلاف لري.

جالبه خبره دا ده چې مصر په ۱۹۶۰ ز کال کې پر نیل سیند برېښنا بند جوړ کړ. هغه وخت دغه انقلابي هېواد ته چې له ښکېلاک یا استعماره تازه خلاص شوی و، دا کار لویه لاسته راوړنه بلل کېده او ایتوپیا هم اوس دا خیال لري.

ایتوپیا له نړیوالې مرستې پرته دا کار بشپړوي، خو ټول له دې خبرې خوشال نه دي.

په کال کې د دولتي کارکوونکو د یوې میاشتې تنخوا د دغه برېښنا بند جوړولو ته بېله شوې او دغه کار ډېر خپه کړي دي.

د دغه بند د جوړولو د بلې برخې مالي لګښت د پیدا کولو لپاره پورپاڼې(هغه پاڼې چې د فزیکي پیسو په ځای د باور لپاره ورکول کېږي) پلورل کېږي او هم پچې یا بخت ازمویل پیلېږي.

د برېښنا بند ډېر اغېزناک جوړ شوی او د کار له پیلېدو پنځه کاله وروسته یې په دریو کې دوې برخې کار بشپړ شوی دی.

مصر له پوځي عملیاتو پرته بل کار نه شي کولی، خو دا هم ډېر توندلاری ګام دی. د همدې لپاره ډیپلوماسي او همکاري د حل یوازینۍ لاره ده.

خو کله چې د هېوادونو ترمنځ خبره د ملتپالنې او اهمیت وي، نو بیا دا ډیپلوماسي او همکاري اسانه کار نه وي.

د اوبو پر سر د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل مخنیوی ممکن دی او ښایي په نړۍ کې د ورته ستونزو د هوارې بېلګه شي، خو په دې برخه کې جوړجاړې ته د مصر، سوډان او ایتوپیا رسېدل به ډېره انرژي وغواړي.

# د ټاکنو برخلیک؛

## عبدالله عبدالله: د ټاکنو پایله نه منم، د بحران مسوول به ولسمشر غني وي



د ثبات او همپالنې ټیم نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله ویلي، د رایو د بیاشمېرنې بهیر دې ودرول شي او په خبره یې، په اوسنۍ بڼه د ټاکنو پایلې ورته د منلو نه دي. وروسته له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د څه باندې اتو زرو محلونو د رایو د بیاشمېرنې بهیر پیل کړ، د ثبات او همپالنې ټیم غبرګون ښود او دغه بهیر یې غیر قانوني وباله. له دې سره جوخت یاد ټاکنیز ټیم تېره ورځ غونډه درلوده او په هغه کې یې وویل، چې په اوسنۍ بڼه د ټاکنو پایلې ورته د منلو نه دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون تېره اونۍ پرېکړه وکړه چې د څه باندې اتو زرو مرکزونو رایې به له سره شمېرل کېږي. دغه بهیر ورمه ورځ (شنبه) پیل شوی دی او د ۳۰ نړیوالو او ملي بنسټونو او ټاکنیزو ناظرینو په حضور کې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه کېږي. خو له دې سره جوخت، د ګلبدین حکمتیار، رحمت الله نبیل او ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ ټاکنیزو ډلو د رایو د بیاشمېرنې له بهیر سره پرېکون اعلان کړی دی.

د ډاکټر عبدالله عبدالله ټاکنیزې ډلې تېره ورځ یوه غونډه جوړه کړې وه او نوموړي خپلو پلویانو ته وویل چې د دوی له رایو به دفاع کوي. ډاکټر عبدالله د ټاکنو پر خپلواک کمېسیون غږ وکړ چې د رایو د بیاشمېرنې بهیر ودروي او په هېواد کې دې د بحران رامنځ ته کولو ته لار نه هواروي. د ده په خبره، که یې کمېسیون څرګندونو ته ارزښت ور نه کړي، نو دوی به اړ شي چې پر نورو لارو چارو فکر وکړي. عبدالله زیاتوي چې د کمېسیون اوسنۍ کړنې غیر قانوني دي او دوی ته غیر قانوني فعالیتونه د منلو وړ نه دي. هغه همدا راز ګواښ وکړ چې په اوسنۍ بڼه که کار مخ ته ځي او د ټاکنو پایلې اعلانېږي؛ نو ده ته د منلو وړ نه دي.

عبدالله عبدالله تېره ورځ د لویې جرګې په تالار کې د وینا پر مهال له خپلو ناظرینو هم وغوښتل چې د رایو د بیاشمېرنې په پروسه کې له نظارت او ګډون ډډه وکړي. نوموړي وویل: «زموږ څارونکو په بیاشمېرنې کې ګډون نه دی کړی، موږ اعلامیه خپره کړې، کمېسیون ته مو ورکړې، کله چې زموږ څارونکي نظارت ونه کړي، نو د قانوني اعتراض له مخې موږ وایو چې له قانون او طرزالعملونو تخلف شوی، نو بیا هغه نتایج مشروعیت نه لري، کمېسیون دې د قانون له مخې په خپلې پرېکړې له سره غور وکړي».

عبدالله عبدالله دغه شان وویل چې د هغو ۳۰۰ زرو رایو برخلیک چې د نوموړي په خبره غیر معتبرې دي او له وخته مخکې او وروسته کارول شوې، هم باید روښانه شي. عبدالله خبرداری ورکړ، که یې غوښتنې ونه منل شي، پر نورو سوله ییزو اقداماتو به غور وکړي. عبدالله وویل «په هېواد کې د کړکېچ پلوی نه دی او که بحران رامنځته کېږي، مسوولیت به یې د محمد اشرف غني په مشرۍ د دولت جوړوونکي ټیم پرغاړه وي».

بلخوا د ولسمشر غني په مشرۍ ټاکنیز ټیم او د دغه ټیم لومړي مرستیال د عبدالله عبدالله پر څرګندونو غبرګون ښودلی دی. دوی له نوموړي غوښتي چې قوانینو او د ټاکنو خپلواک کمېسیون پرېکړو ته درناوی وکړي او په دې توګه په هېواد کې د ګډوډیو او بې نظمیو له جوړولو لاس واخلي. د دغه ټاکنیز ټیم لومړي مرستیال امر الله صالح ویلي، دوی قوانینو ته ژمن دي او په پوره ژمنتیا د کمېسیون د پرېکړې درناوی کوي.

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې د دوی فعالیتونه او اقدامات قانوني دي او ټاکنیز ټیمونه باید همکاري ورسره وکړي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ویلي چې د خلکو رایو ته درناوی لري او په خبره یې په ۳۴ ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه پیل شوې چې نړیوال او داخلي ناظرین هم پکې حاضر دي، نو ځکه یې فعالیتونه او اقدامات قانوني بڼه لري.

# راپورونه: په هند او بنګله دېش کې د سخت توپان له کبله دوه میلیونه کسان بې ځایه شوي

په بنګله دېش او هند کې د بولبول په نامه د سخت توپان د رارسېدو له وېرې څه باندې دوه میلیونه وګړي له خپلو سیمو وتلي دي.

دغه توپان ورمه ورځ د هندي بنګال لوېدیځ ساګر ټاپو ته ورسېد او اټکل و چې څپې یې دوو مترو ته ورسېږي.

د رپوټونو له مخې، تر اوسه د دغه توپان له کبله دوه کسان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي.

په ورته وخت کې هندي چارواکو ویلي، چې د دغه هېواد د کلکتې نړیوال هوایي ډګر په ګډون، ډېری نږدې بندرونه او هوایي ډګرونه تړل شوي دي.

په بنګله دېش کې هم د مونګلا او چیټاګونګ په نومونو دوه لوی بندرونه تړل شوي او د چیټاګونګ هوایي ډګر الوتنې هم درول شوې دي.

د بنګله دېش د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې وزیر شاه کمال د فرانسې خبري اژانس ته ویلي، د توپان له وېرې له خپلو مېنو د وتلو وګړو شمېر ۵۵۰۰ کسانو ته رسېدلی دی.

بلخوا د هند په لوېدیځ بنګال کې یوې لوړپوړې چارواکې ماماتا بانرجي هم دغې سیمې ته د توپان له رسېدو مخکې له خلکو غوښتي چې له سیمې دې ژر تر ژره ووځي.

هغې زیاته کړې: «هیله ده د ځانونو د خوندیتوب په موخه له چارواکو سره همکاري وکړئ او په خوندي سیمو کې پاتې شئ».

چارواکو ویلي، له دغه توپان سره په ساعت کې له ۱۲۰ تر ۱۵۰ کیلومتره بادونه هم مله دي چې په سمندر او اوبو کې یې لویې څپې جوړې کړې دي.

د هند د هوا پېژندنې اداري وړاندوینه کړې چې دا توپان شمال ته خوځېدلی او ښایي توان یې کم شي.

د دې اداري په خبره، یاد توپان په خپل تګلوري کې به د نړۍ لوی ځنګل مانګرو او د بنګال پړانګانو استوګنځي ته هم ورسېږي، چې نسل یې د ورکېدو په حال کې دی.

هندي چارواکو ویلي، د پوځ بېړۍ او الوتکې د تیارسي په حال کې دي، چې په بېړني حالت کې اغېزمنو شویو سیمو ته مرستې ورسوي.



که څه هم د بنګله دېش سمندرغاړې سیمې هم د توپان له خطره سره مخ دي، خو دا هېواد په تېرو کلونو کې توانېدلی چې د توپان له کبله احتمالي مرګ ژوبله راکمه کړي.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### اووم څپرکی
### بد نصیب بلوچستان




د پښتنو د سیاسي ځواک پر ضد اسلاماباد اسلام پال پښتانه، په ځانګړي توګه جمعیت اسلامي ګوند راپورته کړ، څو پرې ملت پال پښتانه سیاستوال تر شاه کړي. په ۱۹۷۰ز او ۱۹۸۰ز لسیزو په افغانستان کې مېشت پښتانه او بلوڅ ملت پال سیاستوال د پاکستان تر دقیق څار لاندې وو. له دې ملت پالو سیاستوالو څخه یې ځینو د مجاهدینو پر ضد د افغانستان د سوسیالېست رژیم د جګړې ملاتړ هم کاوه.

د کمونستانو پر ضد د مجاهدینو له بریا سره د پولې دواړو غاړو ته اړیکې پېچلي حالت ته لاړې. د مجاهدینو ډلو ډېر ژر پر خپلو کې د یو بل پر ضد په غچ اخیستونکو مخالفتونو لاس پورې کړ. د مجاهدینو ډېرو قومندانانو د اسلام پالنې ژمنتیا تر شا پرېښوده. د هغوی ځایي پرستیژ او د سیمې په کچه سوداګرۍ او د نشه یي توکو پیسو ته لاسرسی، هغوی دا ټول له پاکستاني پوځ سره تړلي وو. د افغانستان په سویلي ولایتونو کې ډېرو مجاهدینو له شاهي کورنۍ سره اړیکې ساتلې. د هغوی ملت پالو حس یې له اسلاماباد څخه لیرې کړ. کله چې په ۱۹۹۰ز لسیزه کې افغان مجاهدین په خپلو کې پر جګړه بوخت وو، پاکستان خپله له بې ثباتۍ سره مخ و، ملکي حکومت یې کمزوری و، د ملکي او نظامي مشـرانو تر منځ یې اخلافاتو دوام لاره، قومي او فرقه یي جګړې هم رواني وې او نړیوالې ټولنې د پاکستان د اټومي وسلو لپاره پرې بندیزونه لګولي وو. د ۱۹۹۰ز لسیزې په منځ کې د افغان طالبانو راپورته کېدل د جمعیت علماء اسلام ګوند لپاره د یوې همکارۍ لکښې په مانا و. ځینو طالبانو د بلوچستان ولایت په شمالي پښتني ولسوالیو، د جمعیت په مدرسو کې سبقونه ویلي وو. جمعیت پر ځینو طالب مشـرانو حساب کاوه او هغوی ته یې له خپلو مدرسو څخه د جګړې لپاره کسان ورکول. د دې ګوند مشـرانو په وار وار کندهار ته سفرونه کول او په ډاله کې یې له طالبانو خپل ملاتړ اعلان کړی و. د جمعیت له مشـرانو څخه د بلوچستان ولایتي وزیر، مولانا عبدالباري اغا، مولانا نورمحمد او مولوي عصمت الله د طالبانو ایډیولوژیک ملګري وو. طالب مشـرانو د مولانا عبدالغني ډېر قدر کاوه، هغه د جمعیت علماء اسلام ګوند حقوق پوه او د چمن پولې ته نږدې د یوې مدرسې مشـر و. کله چې هغه د ۲۰۱۱ز کال په اکتوبر کې په یوه ترافیکي پېښه کې ومړ، طالبانو پرې عمومي ماتم اعلان کړ. د طالبانو تحریک هغه شهید یاد کړ او ویې ویل چې تشه یې بل څوک نشي ډکولای. په رسمي بڼه د لومړي ځل لپاره، پر افغانستان د امریکا له یرغل وروسته، د طالبانو یوه ویاند له جمعیت علماء اسلام سره خپلې اړیکې ومنلې او مولانا عبدالغني یې د خپل تحریک ځواکمن ملاتړی اعلان کړ. وروسته له هغه چې د امریکایي هوایي ځواک، ځانګړو ځواکونو او افغان طالب ضد ډلو پر مرسته د طالبانو رژیم ړنګ شو، واشنګټن په رسمي بڼه د طالبانو د ماتې خبر خپور کړ. د طالبانو قدرت په کابل کې پای ته ورسېد، خو هغوی هر ځای شته وو. هغه مهال چې امریکا په افغانستان کې د نوي حکومت پر جوړولو بوخته وه، طالبانو د پاکستان فاټا او د بلوچستان شمالي ولسوالیو ته لاړل. هلته د کوټې شورا په چوکاټ کې د ملا محمدعمر په مشـرۍ بیا سره یو ځای شول او د جګړې لپاره یې پلانونه تنظیم کړل. په ۲۰۰۳ز کال یې د افغانستان په سویل کې په شدید تاوتریخوالي لاس پورې کړ. د طالبانو د تحریک ډېر پخواني غړي چې د موجوده حکومت له لوري ځورول شوي وو، یو ځل بیا له طالبانو سره یو ځای شول. په ۲۰۰۴ز کال د افغانستان د ولسمشـرۍ ټاکنې په بریالیتوب ترسره شوې. دا د نړیوالې ټولنې لپاره یوه لاسته راوړنه وه، طالبانو درک کړه چې باید جګړه لا توانده کړي. د ۲۰۰۵ز کال پارلماني ټاکنې د ولسمشـریزو ټاکنو په پرتله ډېرې له بریدونو او ګواښونو سره مخ شوې. کوټه د طالبانو د مرکز په توګه وپېژندل شوه. امریکایي لیکوالې الیزابېت روبین لیکلي وو: ((کوټه د طالبانو لپاره یو ازاد مېشت ځای جوړ شوی چېرې چې هغوی خپلې ستراتیژۍ ترتیبوي، پېسې ورکول کېږي، له رسنیو سره مرکې کوي او خپلې بریاوې پکې نمانځي.)) دا لیکواله د هغو کمو لوېدیځوالو خبریالانو له ډلې وه چې له کوټې یې راپورونه خپرول. ځینو به کوټه د ۱۹۸۰ز لسیزې له پېښور سره پرتله کوله، ځکه هغه مهال د پاکستان حکومت له افغان مجاهدینو سره هلته همکارۍ کولې. روبین د خپلې لیکنې پر دوام لیکلي وو: ((کوټه د جاسوسانو، د متقابلو جاسوسانو او دوه مخو جاسوسانو ځای هم دی.)) له طالبانو د جمعیت علماء اسلام ملاتړ ډېر بربنډ و. هغوی به د طالبانو په جنازو او فاتحو کې ګډون کاوه او د هغو ځایي کسانو ستاینه به یې کوله چې له طالبانو سره اوږه پر اوږه جګړه کې وژل شوي وو، البته د هغه مهال د اټکل له مخې چې ۱۰۰۰۰ طالبان فعال وو.

د طالبانو له مشـرانو څخه یو هم ملا دادالله و چې له کوټې ښار څخه یې د جګړې چارې تنظیمېدلې. هغه د مولانا نورمحمد زده کوونکی تېر شوی و، د افغانستان په سویل کې د جګړې تر ټولو بریالی او سخت زړی قومندان و. د هغه له زړورتیا او سخت زړه لرلو سره د هغه استاد د جرمني یوې مجلې «شپیګل» ته په یوه مرکه کې ویلي وو: ((پرې ویاړم.)) ملا داد الله په کوټه کې و، خو اسلاماباد پر هرڅه سترګې پټولې. ډېوېډ ریچارډ، په افغانستان کې د ناټو د برېټانوي ځواکونو قومندان به د وېډیوګانو، سټلایټ انځورونو او له نیول شوو طالبانو د اقرار ثبوتونه مشـرف ته ښودل چې له مخې یې د پاکستان له لوري د طالبانو ملاتړ په ډاګه کېده، خو اسلاماباد پر هرڅه سترګې پټولې، تر پایه یې خپلې تګلارې بدلې نه کړې. **دوام لري...**

# فلسطین

حشمت الله نوري

فلسطین پـه عـربي منځنـي ختیـځ کـې د آسیا پـه جنـوب- لوېدیځـه برخـه کـې د مدیترانـې د سـمندرګي پـه ختیځـه خوا کې د شـمالي عـرض البلدونـو د ۲۹ او ۳۲ درجو او د ختیـځ طـول البلدونـو د ۳۴ او ۳۶ درجو تـر منـځ موقعیت لـري، چـې ټولټـال یـې پراخوالـی ۱۰۱۶۲ میـل مربـع تـه رسـېږي.

د فلسطین شـمال تـه لبنان او سـوریه، شـمال- ختیـځ تـه یې سـوریه، جنـوب ته یې د اردن عقبـې خلیـج، ختیـځ تـه یـې اسرایل او لوېدیـځ تـه یـې د مدیترانـې سـمندرګی پـروت دی.

د فلسـطین پـه منځنیـو برخـو کې له شـمال څخـه جنـوب تـه د نابلـس، خلیـل تبـور، حیـدر او نـور غرونـه پراتـه دي. د دغـو غرونـو لوېدیځـې خـوا تـه د مدیترانـې د سـمندرګي د څنـډو سـاحلي هـوارې ځمکـې موقعیـت لـري.

د دغـه هېـواد پلازمېنـه د بیـت المقـدس ښـار دی او ټولټـال یـې نفـوس څـه بانـدې ۱۳ میلیونـو کسـانو تـه رسـېږي، چـې پـه هر کیلومـتر مربـع سیمه کې یې ۱۱۶۴ کسـان ژونـد کـوي.

د فلسـطین ۵۰ سـلنه خلـک پـه ښـارونو او پاتـې نـور یـې پـه کلیـو او بانـډو کـې ژونـد کـوي. د دغـه هېـواد د قانـون لـه مخـې، هره کورنـۍ پـه ټـول عمـر کـې یـوازې د پنځـو ماشـومانو د درلـودو حـق لـري.

فلسـطین لا تـر اوسـه پـه نـړۍ کـې د یـو خپلـواک هېـواد پـه توګـه نـه دی پېژنـدل شـوی، د ملګـرو ملتـوو د ۲۰۱۱ ز کال پـه کلنـۍ غونـډه کـې د فلسـطین د کورواکـه اداري مـشر محمـود عبـاس د لوېدیځـې غـاړې مـشر هڅـه وکـړه، چـې پـه غونـډه کې د فلسـطین د نړیوالـې پېژندنـې وړاندیـز مطـرح کـړي؛ خـو د کورنیـو سـتونزو لـه امله سمدلاسـه لوېدیځـه غـاړه او غـزه جـلا اداري لـري. پـه لوېدیځه غاړه کـې د محمود عباس پـه مشرۍ یـوه کورواکـه اداره فعالـه ده، چې څـه ناڅـه نړیوالې اړیکـې او پېژندګلوي لري او پـه غزه کې د حماس د اسلامي غورځنګ واکمنـي ده.

د لوېدیځـې غـاړې اته ګونې ولسـوالۍ خپل خپـل مـشران لـري، چـې محمـود عبـاس یې ټاکـي. دا مـشران د کورنیـو چـارو د وزیرانو تر نظر لاندې د سیمه ییزو ښـاروالانو او د کلیو د شـوراګانو د مشرانـو پـه مشـوره کار کـوي. ښاروالي او د کلیو شوراګانې د اوبو او برېښنا د برابرولـو، د سیمو د پاکولـو، د ښـوونځیو د جوړولـو او ترمیم، د ښـارونو د پلان جوړولو او د ودانیـو د کنټـرول، د سـړکونو د جوړولـو او ترمیـم، د عامـه مارکېټونو د څارنې او تفتیش دنـدې پر غـاړه لري.

پـه فلسـطین کـې څـو عـالي شـوراګانې هم شـته چـې د ښـوونې او روزنـې، کـور جوړولو، روغتیـا، صنعـت او کرنـې چـارې پـر مـخ بیایـي. د ۱۹۹۶ ز کال د جنـوري پـه شـلمه د فلسـطین د مـشر او د قانـون جوړولـو د شـورا لپـاره لومړنـۍ ټاکنـې تـر سره شـوې. اوس اوس د فلسـطین کورواکـه اداره د محمـود عبـاس پـه مـشرۍ څـه د پاسـه ۶۵ زره مامورین لـري.

د فلسـطین د ملي خپلواکـۍ تحریـک، د یاسر عرفات پلویـان، د فلسـطین د خپلواکـۍ لپـاره د خلکو جبهه او داسـې نور د دغـه هېـواد مهـم او نفـوذ لرونکـي ګوندونه دي.

پـه دغـه هېواد کې د ۱۹۶۵ ز کال د جنوري لومـړۍ چـې د اسرایلو پر ضد د فلسطینیانو د وسـله وال پاڅـون لومـړۍ ورځ ده، هـر کال د ملي رخصتـۍ پـه نـوم پکـې نمانځل کېـږي.

پـه ۱۹۴۸ ز کال کـې د لوېدیځـو قدرتونو پـه دسیسـه ملګـرو ملتونـو د فلسـطین پـه خاوره کـې د اسرایلـو د دولـت د جوړولـو پرېکـړه وکـړه. لـه دې وروسـته د ۱۹۴۸، ۱۹۶۷ او ۱۹۷۳ ز کلونـو پـه جګـړو کـې اسرایلـو ورو ورو د فلسـطین ډېـره خـاوره ونیـوه او د دغـه هېـواد ډېـر خلـک ګاونډیـو او نـورو عـربي هېوادونـو تـه د ژوند او کار لپاره مهاجر شـول او د فلسـطین خـاوره د اسرایلـو د مالونـو پـر مارکېـټ بدلـه شـوه.

کرنه د فلسطین د اقتصاد اساسـي سـکټور دی، کرنـه د دغـه هېـوا ۶۶ سـلنه ناخالـص کـورني تولیـدات او ۲۵ سـلنه صـادرات برابـروي او د فلسـطین ۱۷ سـلنه خلـک د کرنـې پـه سـکټور کـې پـر کار بوخـت دي. د فلسـطین صنعتي سـکټور کمـزوری دی او د هېـواد لس سـلنه ناخالـص کـورني تولیدات جـوړوي. پـه دغـه هېـواد کـې د اقتصـادي پرمختـګ او خلکـو تـه د کار د موندلـو لپـاره د صنعتـي سـکټور وده او پراختیـا ډېـره ضروري ښـکاري. دا سـکټور بهرنـۍ پانګـې او پرمختللـې ټکنالـوژۍ تـه اړتیـا لـري او دا خپلـه پـه هېواد کې سیاسي ثبـات او مرکزي پیـاوړی حکومـت غـواړي.

د کارګرانـو د نړیوالـې ټولنـې د ارقامـو لـه مخـې، فلسـطین ډېر ګارکران نـورو هېوادونو تـه لېږي. د فلسـطین لوېدیځـې غـاړې او غـزه پـه ۱۹۹۵ ز کال کـې د ګرځندویانـو له مدرکـه ۱۵۲ میلیون ډالره عایـدات درلودل. دا عایـد اوس کـم شـوی، اوس پـه فلسـطین کـې مامورین د سیاحت پـه سـکټور کـې پر کار بوخـت دي. د فلسـطین ډېـره تجارتي راکـړه ورکـړه لـه مـصر، اردن او اسرایلـو سره ده. دغـه هېـواد او اسرایـل د هغـه اقتصـادي تـړون لـه مخـې چـې پـه پاریس کـې لاسـلیک شـوی دی، پـه ۱۹۹۰ ز کال کـې د یـو بلیـون ډالـرو تجارت کـړی دی. دغـه رقـم پـه وروسـتیو کلونـو کې د سیاسي ملحوظاتـو لـه مخـې کـم شـوی دی. د دغـه هېـواد د اقتصـاد پـه هکلـه پـه عمومـي توګه ویـل کیـدای شي چـې د پرلـه پسـې جګـړو، مهاجرتونـو او سیاسي سـتونزو له املـه، پوره معلومات نشـته او سم ارقام نه شي تر لاسـه کیـدای. ډېر فلسـطینیان پـه نـړۍ کې خواره واره او لالهانـده ژونـد کـوي. پـه دغـه هېواد کـې کورنـۍ پانګـه لـږ ده او د بهرنیـو پانګـو لپـاره لا امنیتـي او قانـوني شرایط نـه دي برابـر شـوي.

د کانونـو ایسـتل، خوراکـي توکـي، ټوکـران، ملغلـرې، جامـې، چرمـي شـیان، سـیګرېټ، لرګیـن تولیدات، کاغـذ او طبابت، کیمیاوي توکـي، صابـون، ربړیـن او پلاسـتکي شـیان، کوچني ماشـینونه او برېښـنایي سامان الات د دغـه هېـواد مهـم صنعتـي فکټورونه دي.

د فلسطین ۳۰ سـلنه خـاوره د کرنـې وړ ده، کرنه د دغه هېواد د اقتصاد اساسـي سـکټور بلـل کیږي، په دغه سـکټور کـې د هېواد ۱۷ سـلنه خلک پر کار بوخت کړې او ۶۶ سـلنه ناخالـص کـورني تولیـدات لـه دې سـکټور څخـه لاس تـه راځـي. غنـم، وربشـې، لوبیـا، نخـود، کنجـد، زیتـون، خرما، کچالو، سـابه، مېـوې، غوښـه، لبنیـات او هګـۍ د دغـه هېـواد مهـم کرنیـز محصولات بلـل کیږي.

فلسـطین ډېـر لرغونـی تاریخ لـري، له میلاد څخـه څـو پېړۍ مخکې فلسـطین د سـیمې او نـړۍ د لویـو ځواکونـو لپاره د تلو راتلو لار وه او ډېـرو ځواکونـو پـر دغـه لرغوني هېـواد واکمنـي کـړې ده. لـه میـلاد څخه ډېـر کاله مخکـې د مـصر فرعـون پـر فلسـطین یرغـل وکـړ او دوې پېړۍ وروسـته دغـه سیمه پـه بشـپړه توګـه د مصریانو لاس تـه ورغله. له له میـلاد څخـه ۱۲۲۵ کالـه مخکـې د حضرت موسـی ع پـه مـشرۍ، د بنـی اسرایلـو قـوم د فلسطین پـه خـاوره کـې مېشـت شـو. لـه ۱۰ تـر ۱۲ پېړیـو پـه تـرخ کـې د فلسـطین د قومونـو خلـک د اژي د سـیند لـه ټاپوګانـو څخـه د پخواني کنعـان یا فلسطین خاورې تـه ولېږدېـدل او د بنـي اسرایلـو د دولـت پـر وړانـدې یـې یـو بـل پیـاوړی دولـت جـوړ کـړ. د حضـرت موسـی پـه وخـت کـې د یهـودو دیـن د فلسـطین پـه خـاوره کـې ډېـر پـراخ شـو. بنـي اسرایلـو له میـلاد څخـه ۱۰ پېړۍ مخکـې د حضـرت داوود او بیـا د حضـرت سلیمان ع پـه مـشرۍ پـه فلسـطین کـې د عـبري پاچایـۍ بنسـټ کېښـود. دغـه هېـواد د حضـرت سـلیمان پـه وخـت کـې ښـه پرمختـګ درلـود، د سلیمان لـه مړینـې وروسـته د یهـودي قومونـو یووالـی لـه منځـه لاړ او د فلسـطین پـه خـاوره کـې دوه بېـل یهـودي دولتونه جوړ شـول. د دغـه هېواد پـه شـمال کـې د اسرایلـو هېـواد چې د سـامري ښـار یـې پایتخـت و، لـه میـلاد څخـه ۷۷۲ کالـه مخکې آشـوریانو پـر اسرایلـو او یهودانو یرغـل وکـړ. د اسرایلـو هېـواد یـې ونیـو او د یهودانـو ډېـرې برخـې یـې ونړولې. لـه میلاد څخـه ۵۸۶ کاله مخکې بابلیانو د یوروشـلیم ښـار ونـړاوه او د فلسطین دواړې برخـې یـې ونیـوې. آشـوریانو او بابلیانـو هغـه وخـت پـه زرګونـو یهـودان لـه خپلې خاورې څخه بین النهریـن تـه وکوچول. لـه ۵۳۹ میلادي کاله څخـه دوه پېړۍ مخکـې د دویمـې پېړۍ پـه دویمـه نیمایـې کـې مقدوني سـکندر پر لوېدیځـه آسیا یرغـل وکـړ. له دې وروسـته په خـورو ورو جګـړو کـې اسرایلـو خپلـې پښـې ټینګـې کـړې او د فلسـطین پـه ۸۰ سـلنه خـاوره کـې د اسرایلـو دولت رسـمي بڼه غوره کـړه. مخکـې لـه دې د ملګـرو ملتونو عمومي ټولنـې د اسرایلـو حـدود ټـاکلي وو، خـو اسرایـلي پوځونـو دا حـدود پـه پام کـې ونـه نیـول او د فلسـطین ډېـره خـاوره یـې غصب کـړه. د دې جګـړې لـه املـه نـږدې ۷۵۰ زره فلسـطینیان لـه خپلـې خـاورې څخـه مهاجـر او د اردن د سـیند لوېدیځـې غـاړې او غـزې تـه کډه شـول، غـزه دا وخـت د مصر او لوېدیځـه غـاړه د اردن د سـیند لوېدیځـې غـاړې او غـزې تـه جګـړه ورسـېده او وروسـته پـه پرمختګونو کـې صهیونسـتان خـورا منظم وو او سـتره نړیوالـه مرسـته ورسره وه، خـو پـه فلسـطین کـې لا مشرتـوب او ملـي هویـت نـه و پیـاوړی شـوی او دا عـربي هېوادونـه وو چـې د فلسطین پـه استازیتوب یـې پرېکـړې کولـې. د جګـړې نـاوړه پایلو فلسـطیني روڼ انـدي او ملـي مبارزیـن دې تـه اړ کـړل، چـې د خپلـو خلکـو پـه مټ د خپـل هېـواد د خپلواکـۍ لپـاره مبارزه پیـل کـړي او د فلسـطین خپلواکـۍ غوښـتونکی غورځنـګ یـې جـوړ کـړ.

د افغانسـتان د بهرنیـو چـارو وزارت د سـتراتیژیکو اړیکـو پـه کتاب کـې د فلسـطین پېژندګلـوي نشـته. فلسـطین داسـې هېـواد دی چـې تـر اوسـه پـه رسـمي توګـه نـه دی خپلواکه شـوی او د ملګـرو ملتونو غړیتوب نه لـري، خـو د نـړۍ ډېـر هېوادونه د فلسـطین لـه کورواکـه اداري سره خواخـوږي لـري او غـواړي چـې د فلسـطین د خلکـو حـق پـر ځـای شي او پـه خپلـه پلرنـۍ خـاوره کـې د خپلـواک هېـواد څښـتنان شي.

افغانسـتان د فلسـطین د خپلواکـۍ غوښـتونکی سـازمان پخوا پـر رسـمیت پېژندلـی او پـه نړیوالو غونډو کې د فلسـطین د خپلواکـۍ د حـق ننګـه کـوي.

له افغانسـتان څخه تر فلسـطین پورې د هوا لـه لارې فاصلـه ۳۰۲۶ کیلومتره او همدا راز د کابـل او بیت المقدس ښـارونو تـر مینځ د وخت توپیر ۲:۳۰ سـاعته دی.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸٦,۱۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۹,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# تاسو څه ډول پانگونه کوی؟

**ژباړه: حمیدالله حمیدي**

د پیسو گټلو لپاره د پیسو د پر کار اچولو هنر ته پانگونه وایي. د هغو کسانو لپاره چې غواړي شتمن شي، په اوسنیو اقتصادي شرایطو کې پانگونه یوه حیاتي مسئله ده. رابرټ کیوساکي پانگه وال په اوو بېلابېلو سطحو کې طبقه بندي کړي دي.

**لومړۍ سطحه: هغه چې هېڅ پانگه نه لري**

دا کسان خپل ټول عواید مصرفوي، ځینې یې ان داسې دي، چې له عوایدو یې لگښت ډېر وي او خپل ټول ژوند یې په پور (قرض) کې تېر کړی وي. له بده مرغه باید ووایم چې د ټولنې یوه زیاته برخه کسان همداسې دي.

**دویمه سطحه: پور (قرض) اخیستونکي**

ځینې کسان د پور په واسطه خپلې اقتصادي ستونزې حلوي او په دې پیسو پانگونه کوي. دوی که څه هم چې خپلې پیسې لري، خو تر ډېره له خلکو څخه پوروړي وي. له بده مرغه ډېری کسانو دې ډول پورو ته مخ کړی وي. دوی نه پوهېږي چې دا د پور ډېره بده بڼه ده. دوی د وخت په تېرېدو سره چې د پورونو کچه یې لوړه شي، له دې هم ډېر پور اخلي، څو خپل پخواني پورونه پرې خلاص کړي. د دې پور اخیستونکو یو گډ عادت دا دی چې دوی له کومې وېرې پرته پیسې بنې په خلاص لاس مصروفي. د دوی له کور، موټر او ورځني ژوند څخه داسې ښکاري، چې لوی پانگه وال به وي، خو په اصل کې یې دا هېڅ خپل نه وي او پوروړي وي.

**درېیمه سطحه: سپما کوونکي**

دغه ډله کسان د خپلو عواید یوه برخه د ورځني ژوند د پر مخ بېولو لپاره لگوي او یوه برخه یې سپما یا پس انداز کوي. دوی د خپل دې کار لپاره یو ځانگړی بانکي اکونټ لري. له دې کار څخه د دې کسانو موخه دا ده چې د سبا ورځې لپاره یې یو څه پیسې سمولې وي، نه د پانگونې یا شتمنۍ لپاره. ځکه دوی له دې وېرېږي چې سبا پوروړي نه شي. اوسنیو اقتصادي شرایطو او د بازار گډو وډو نرخونو ته په کتو، دغه ډول سپما بې گټې ده، خو دوی بیا هم پر دې کار ټینگار کوي او تر سره کوي یې. البته د ځینو ځانگړو ورځو لپاره پس انداز ښه دی، خو په زیاته کچه د پیسو ساتل مو د پرمختگ مخه ډپ کوي.

**څلورمه سطحه: هوښیار پانگه وال**

هوښیار پانگه وال هغه دي چې د پانگونې له اړتیا خبر دي. دا کسان ډېری یې لوستي او د ټولنې د منځنۍ کچې خلک دي. دوی د پانگونې له اهمیت څخه خبر دي، خو د بای او برد په اړه بیا دومره معلومات نه لري. په دې سطحه کې بیا درې ډوله پانگه وال لرو.

الف - له جنجاله تښتېدونکي: دغه ډله کسان له جنجال او دردسر څخه زړه توري دي. دوی چې کومې پیسې گټې؛ هغه په بکس، کور او یا بانک کې ذخیره کوي. دوی مالي خپلواکۍ ته د رسېدو فکر له سره غورځولی دی او یوازې په دې اړه فکر کوي، چې همدا اوس یو ښه ژوند ولري.

ب- بدبینه: دغه کسان له ځان سره فکر کوي چې په لوبه کې را گیر شوي دي، په داسې حال کې چې دوی بیخي څنډې ته دي. دوی له دې کبله چې د هر څه پر وړاندې بد بینه دي، هر بازار ته ډېر وروسته رسېږي، د معمول په څېر شی گران اخلي او له وېرې یې بېرته ارزانه پلوري، په دې ډول یې بدبیني دوه چنده کېږي او په راتلونکي پانگونه کې احتیاط کوي.

ج- د چانس له مخې معامله کوونکي: د دې ډلې کسانو کړنې د بدبینۍ له مخې نه؛ بلکې د بې پروایۍ له مخې وي. دوی د ونډو بازار او پانگونه په چانس پورې تړي. دغه کسان د خلکو په بې بنسټه خبرو پسې ځي. دوی چې په څه ور پېښېږي، لکه ونډې، طلا او نور دې ته ورته شیان، اخلي یې او هغه ده چې ډېرې زیاتې پیسې له لاسه ورکوي.

**پنځمه سطحه: اوږدمهالي پانگه وال**

کوم کسان چې په دې ډله کې راځي، هغوی ډېر ښه پوهېږي چې پانگونې ته اړتیا لري. نو له همدې کبله یې وخت او پیسې پانگونې ته وقف کړې دي. د دې کار لپاره، مطبوعات گوري، کتابونه لولي او بازار یې تر خپل څار لاندې نیولی وي. له دې سره په څنگ کې د پانگونې په برخه کې له متخصصو کسانو څخه مشوره اخلي او د همدې کار لپاره یې گومارلي وي. د نړۍ مشهور پانگه وال هم له همدې قانون څخه گټه اخلي. دوی ډېر صبور وي.

**شپږمه سطحه: پېچلي پانگه وال**

دغه ډله پانگه وال له خطره ډکې پانگونې کوي. پېچلي پانگه وال د مالي بیان قوي ژبه لري. دوی لېوال دي چې د پانگونې له یوې یا دوو تگلارو څخه کار واخلي. دوی پر ډېرو لویو شیانو باندې پانگونه کوي او یا پر هغه څه باندې خپله پانگه بندوي، چې د اوومې سطحې پانگه والو پرې پانگونه کړې ده.

دوی د پانگې تر څنگ ډېره لوړه پوهه لري، خو له دې سره سره د نویو او تازه شیانو د زده کړې په لټه کې هم وي. له همدې کبله دوی ته پېچلي پانگه وال وایي، چې له ډېرې پانگې سره سره ډېر خاص او ځانگړي سلاکاران لري. دوی غواړي په یو ځل ډېرې پیسې وگټي.

**اوومه سطحه: پانگه وال**

په نړۍ کې د گوتو په شمېر کسان د پانگونې دې غوره سطحې ته رسېږي. دا هغه کسان دي چې دوی هم خپل کارو بار لري او هم بازار او موقع ته په کتو له پانگونې څخه گټه اخلي. دغه ډله کسان ان خپل هېواد لوړې اقتصادي کچې ته رسوي، لکه «هنري فورډ»، «بېل گېټس»، «ستېیو جابز» او ... د شپږمې سطحې پانگه وال د دوی پر پانگه پانگونه کوي. یا په ټوله کې ویلی شو چې د اوومې سطحې د پانگه والو ډېره برخه پانگه د شپږمې سطحې د پانگه والو ده. د دې کچې پانگه وال پوهېږي، چې څه ډول له خلکو او د هغوی له پانگو څخه د خپل خدمت او گټې لپاره کار واخلي. تاسو د پانگونې په کومه سطحه کې یاست؟ د پانگونې بېلابېلې سطحې او ځانگړنې بیان شوې. ستاسو لومړی گام باید دا وي چې تشخیص کړی په کومه سطحه کې راځئ؟ د اوسنیو شرایطو درک او تشخیص هم یو حیاتي امر دی. لوړو پوړونو ته د ختلو (صعود) لپاره باید خپل د قوت او ضعف ټکي او دا چې د پانگونې په کومه سطحه کې یاست، پوهېدل ډېر مهم دي.

په کومه مرحله کې چې اوس یاست، که ترې راضي نه وی، نو د پرمختگ لپاره خپله پوهه زیاته کړئ. که غواړی چې مالي خپلواکۍ ته ورسېږی، باید پرمختگ ته زمینه برابره کړئ. نو د بریاوو او ماتو په نظر کې نیولو سره د پانگونې ډگر ته د وردانگلو لپاره ځان تیار کړی.

# الکوزی: د ټاکنو ناڅرگند برخلیک پر سوداگرۍ ناوړه اغېزه کړې ده

د سوداگرۍ خونې مرستیال خان جان الکوزي ویلي، د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو ناڅرگند برخلیک، د سوداگرۍ پر بهیر له ۱۵ تر ۱۸ سلنې منفي اغېزه کړې ده.

نوموړي تېره ورځ رسنیو ته ویلي چې د ټاکنو د برخلیک د نه معلومېدو له امله سوداگر پانگونې ته زړه نه ښه کوي.

هغه زیاته کړې: «پر موږ یې منفي تاثیر کړی دی، اقتصاد واقعاً له رکود سره مخ دی، تشویش زیات شوی دی، حتی د خلکو فابریکې او پروژې چې په کار باندې یې اچولې وې، هغه ځنډولې دي چې تر څو د ټاکنو برخلیک معلوم شي. هر څومره چې د ټاکنو بهیر ځنډېږي، هغومره د هېواد اقتصاد ته ضرر دی».

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د تېرې «مېزان میاشتې په ٦مه» تر سره شوې چې د یوې نیمې میاشتې په تېرېدو سره یې لا لومړنۍ پایلې نه دي اعلان شوې.

په داسې حال کې چې د ټاکنو کمېسیون د روانې لړم میاشتې ۲۳مه د لومړیو پایلو د اعلان د نېټې په توگه ټاکلې وه، خو د دغه کمېسیون یوه کمېشنر مولانا عبدالله عبدالله تېره جمعه وویل، چې ستونزو ته په کتو، ممکن لومړۍ پایلې پر ټاکل شوې نېټه اعلان نه شي.



دا په داسې حال کې ده، چې د ولسمشریزو ټاکنو نوماند عبدالله عبدالله هم تېره ورځ یوې غونډې ته په وینا کې د ټاکنو له کمېسیون څخه وغوښتل چې د رایو بیاشمېرلو بهیر ژر تر ژره ودروي.

عبدالله وویل، د خلکو له پاکو رایو دفاع کوي او زیاته یې کړه، که ټاکنې کړکېچ ته ولاړې شي، مسوولیت به یې د دولت جوړوونکي ټاکنیز ټیم پر غاړه وي.

خو الکوزي ویلي، که د ټاکنو برخلیک همداسې نامعلوم وي، موجوده پانگه به هم له هېواد څخه ووځي.

نوموړي زیاته کړې: «حتی فابریکې نه راوړي، فابریکې په کانټېنرونو کې پرتې دي، په بندرونو کې یې خریداري کړې دي، وطن ته یې نه راوړي، خلک بېرېږي چې ټاکنې بحران ته ولاړې نه شي».

د سوداگرۍ خونې د چارواکو په خبره، د تېرو پارلماني ټاکنو د پایلو ځنډېدو هم افغانستان ته له اقتصادي اړخه لویه ضربه ورسوله.

# سیگار: امریکا په افغانستان کې له نشه یي توکو سره پر مبارزې نږدې نهه میلیارده ډالر لگولي

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د څار اداري یا سیگار ویلي چې له ۲۰۰۲ ز کال راهیسې تر دې مهاله، امریکا په افغانستان کې له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې ۸.۹۴ میلیارده ډالر لگولي دي.

سیگار په خپل تازه راپور کې ادعا کړې چې په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ ز کلونو کې د غیر قانوني نشه یي توکو ارزښت نسبت د دغه هېواد د قانوني صادراتو د تولید له ارزښت څخه زیات و.

په راپور کې زیاته شوې، چې په ۲۰۱۸ ز کال کې په دغه هېواد کې د کوکنارو په کښت کې له ۲۰سلنې کموالي سره سره، افغانستان له ۱۹۹۴ ز کال راهیسې د نشه یي توکو دویم ستر تولیدوونکی هېواد دی.

دې اداري همدارنگه ټینگار کړی چې د کوکنارو د کښت کموالی د باران د نشتوالي له امله و، نه له نشه یي توکو سره د مبارزې له امله.

سیگار زیاته کړې، هغه کسان چې په افغانستان کې د کوکنارو په کښت او یا هم کاروبار او یا یې غیر قانوني تجارت کې لاس لري، شمېر یې د افغانستان تر ملي اردو او امنیتي سرتېرو زیات دی. خو د افغانستان د کورنیو چارو وزارت ویلي چې د سیگار له دې ادعا سره موافق نه دي.

د کورنیو چارو وزارت پخواني مرستیال مرزا محمد یارمند بیا ویلي: «د امریکا متحده ایالتونو پر اصلي دلایلو او د دې موضوع پر اصلي جرړې باندې تمرکز نه دی کړی، خلک دلته افغانستان ته راغلي، څه ناڅه پانگونه یې کړې ده، خو دغه پانگونه بې ځایه شوې ده».

بلخوا د ولسي جرگې د کورني امنیت د کمېسیون مشر فدا محمد الفت صالح د دې پوښتنې په ځواب کې چې له زیاتو لگښتونو او مبارزو سره سره، افغان حکومت او نړیواله ټولنه په افغانستان کې له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې ولې نه دي بریالي شوي، ویلي چې افغان حکومت نه دی توانېدلی چې په دغه برخه کې د نړیوالو سوداگرو مخه ونیسي.

هغه زیاته کړې: «له همدې امله د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې کوم ښکاره بریالیتوب نه دی تر لاسه شوی».

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۱مه | ٤٦۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۱۵ | ۱٦ | ۱٦ | ۲٤ | ۲۱ |
| ۵ | -۱ | ٦ | ۲ | ۱۲ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۷ | لمر ختل ۰٦:۲۱ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۳۲ | ماښام ۰٤:۵۳ | ماخوستن ۰٦:۱۹

## نړۍ




### شمالي کوریا: که امریکا خپلې ژمنې پوره نه کړي، د خبرو دروازې به ورسره وتړو



د شمالي کوریا د بهرنیو چارو وزارت ویلي، د شمالي کوریا او امریکا ترمنځ د اټومي وسلو پر سر د خبرو دروازه د تړل کېدو په حال کې ده.
د دغه هېواد په بهرنیو چارو وزارت کې د امریکا د چارو څارونکي جو چول سو ویلي، که امریکا په روان کال کې د یاد هېواد پر وړاندې له دښمنۍ او پارووڼکو اقداماتو لاس پر سر نه شي، نو لرې نه ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو دروازې به وتړل شي. هغه ویلي، دوی امریکا ته ډېر وخت ورکړی دی او که چېرته یاد هېواد خپلو کړنو ته متوجه نه شي او د کال تر پایه دوی ته قانع کوونکی ځواب ورنه کړي، نو د خبرو دروازې به یې پر وړاندې وتړي.
نوموړي دغه راز زیاته کړې، دوی به وګوري که چېرته امریکا د تېر پړاو خبرو پر ژمنو عمل کړی وي، نو دوی هم راتلونکې ناستې ته انتظار باسي او که یاد هېواد بیا هم پر کړو ژمنو له عمل پرته پارووڼکي اقدامات وکړي، نو له دوی دې هم د خیر تمه نه کوي.
د یادونې ده چې د ولسمشر ټرمپ په مشرۍ د متحده ایالتونو حکومت له شمالي کوریا سره څو ځله د دغه هېواد د اټومي پروګرام د کړکېچ د پای ته رسولو پر سر مخامخ ناستې هم کړې دي، خو دوی تر دې دمه پر دې نه دي بریالي شوي، چې یوې هوکړې ته ورسېږي.

### متحده امارات: ایران دې له پیاوړو هېوادونو او ګاونډیانو سره د خبرو لړۍ پراخه کړي



متحده عربي اماراتو له ایرانه غوښتي چې له لویو قدرتونو او په خلیج کې له خپلو ګاونډیانو سره د خبرو لړۍ پراخه کړي.
امارات چې په سیمه کې د امریکا مهم متحد دی، په دې خبرو کې نه یوازې د ایران د اټومي پروګرام، بلکې د دغه هېواد د بالسټیک توغندیو او دغه راز په نورو هېوادونو کې د تهران له ملاتړه د برخمنو ډلو په اړه د بحث غوښتنه هم کړې ده.
د رویټرز خبري آژانس د راپور له مخې، د متحده عربي اماراتو د بهرنیو چارو وزیر انور قرقاش په ابوظبۍ کې یوې غونډې ته ویلي چې په روانو حالاتو کې په سیمه او په ځانګړي ډول په خلیج کې د کړکېچ پراخېدل د هېڅ لوري په ګټه نه دي.
امارات چې له ایران سره څمکنۍ لانجه هم لري، دا غوښتنه د تهران د تېرې اونۍ له هغه اعلان وروسته کوي، چې ویې ویل له لویو قدرتونو سره له اټومي هوکړې یوبل ګام هم لرې شوي دي.
قرقاش ویلي، یوه نوې هوکړه به روان کړکېچ حل او له ایران سره به مرسته وکړي چې خپل اقتصاد له روان حالته وژغوري.
د یادونې ده چې د متحده عربي اماراتو د دغې غوښتنې په تړاو ایراني چارواکو تر دې دمه څه نه دي ویلي.


### مشرانو جرګه: نتایج انتخابات باید در زمان معین آن اعلام شود




اعضای مشرانو جرگه می گویند که نتایج انتخابات باید در زمان معین آن اعلام شود؛ زیرا برای مذاکرات صلح باید حکومت منتخب و نیرومند وجود داشته باشد.
اعضای این جرگه از کمیسیون مستقل انتخابات خواست که نتایج انتخابات ریاست‌جمهوری را در زمان معین آن اعلام کنند.
انار کلی هنریار عضو مشرانو جرگه گفته است، مذاکرات صلح با اعلام نتایج انتخابات رابطه دارد، ضرور است که نتایج انتخابات در زمان معین آن اعلام گردد؛ تا مذاکرات صلح از سوی یک حکومت قوی و منتخب به پیش برده شود.
لطف‌الله بابا عضو دیگر مشرانو جرگه نیز از کمیسیون مستقل انتخابات خواست که نتایج انتخابات را در زمان معین آن اعلام نماید؛ زیرا بخاطر آن، مذاکرات صلح متوقف گردیده است.
این در حالی است که مذاکرات نُه ماهۀ صلح بین طالبان و امریکا پس از نُه مرحله، از سوی رئیس جمهوری امریکا متوقف شد؛ اما در این اواخر زلمی خلیلزاد نمایندۀ خاص امریکا، دوباره سفرهای خویش را در این خصوص به برخی کشورها آغاز کرده است.
همچنان قرار است در آیندۀ نزدیک، یک نشست با شرکت نماینده گان طالبان، حکومت افغانستان و برخی سیاسیون افغانستان، در چین راه اندازی شود.
لطف‌الله بابا گفته است: «جنگ، روزانه از ما قربانی میگیرد و هر روز ده ها افغان بی گناه کشته میشوند، به این روند باید نقطۀ پایان گذاشته شود، مذاکرات صلح زمانی میتواند نتایج مثبت و خوب داشته باشد که طالبان و یک حکومت قوی منتخب، پشت میز بنشینند و برای مشکلات موجود راه حل را بررسی نمایند».
فضل هادی مسلمیار رئیس مشرانو جرگه از کمیسیون انتخابات خواست که نتایج انتخابات را در زمان معین اعلان نماید.
این درحالی است که عبدالله عبدالله نامزد انتخابات ریاست جمهوری، دیروز گفت که بازشماری آرا باید متوقف شود؛ زیرا این کار مشروعیت ندارد.


## ژوند

### ساه‌لنډي په ښځو کې د زړه د ناروغۍ نښه ده؟



ځینې وخت ساه‌لنډي په تنفسي سیسټم کې د ستونزې له کبله وي، چې د حل لپاره یې باید ورزش وشي او که د هوا د یخوالي له کبله وي، باید د الرژۍ ټابلېټ وخوړل شي، خو که داسې نه وي بیا د زړه د ناروغۍ نښه کېدای شي. ډاکټر سوزان شتاینباوم وایي، د زړه اصلي دنده د وینې په وسیله د اکسیجن رسول دي، خو که ونه شي کولی په سم ډول اکسیجن ورسوي، په دې مانا ده چې زړه له ستونزې سره مخ شوی دی. د زړه د ناروغۍ پر مهال تنفسي ستونزې دومره ډېرېږي، چې ان سړی نه شي کولی وغځېږي. د زړه ناروغي د بدن غړو ته د اکسیجن رسېدل ستونزمنوي. که تاسو هم په ساه اخیستو کې ستونزه لرئ او دغه ستونزه مو د الرژۍ له کبله نه وي، ښه ده چې له اړوند ډاکټر سره سلا وکړئ. د سینې په قفس کې دروندوالی، چې د انژین په نوم هم یادېږي او ورسره ساه‌لنډي، د زړه د ناروغۍ اصلي نښې بلل کېږي. ډېرې ښځې داسې احساس کوي چې پر سینه یې درونده شی ایښودل شوی او یا یې په معده کې شته خواړه هضم شوي نه دي. که له دې ډول پېښې سره مخ شوئ او ښه پوه وئ چې لامل یې بل څه نه شي کېدای، نو ژر تر ژره ډاکټر ته مراجعه وکړئ.

### ځینې خلک مو له سره د ارزښت تاج را ښکته کوي



د ژوند په اوږدو کې کېدای شي یو څوک یا یو شی هڅه وکړي، چې ستاسو د ارزښت تاج ستاسې له سره لرې کړي. خلک به هڅه وکړي چې تېېټ مو معرفي کړي او داسې یو څه درته ووایي چې له ځانه مو زړه تور شي. دوی په اصل کې د دې په لټه کې دي چې ستاسې له سره دغه تاج را ښکته کړي. ځان ته مینه ورکړئ او مه پرېږدئ چې خلک دغه تاج ستاسې له سره را ښکته کړي. مه پرېږدئ چې د نورو خلکو خبرې مو د ذهن او کړو وړو واګې په لاس کې واخلي. کېدای شي څوک درته ووایي: ته هېڅ وړتیا نه لرې، ته هېڅ ځای ته نه شې رسېدی، ته به هېڅ کله د خپل کاروبار څښتن نه شې. ډېر کله موږ فکر کوو چې هو! نو څه پېښېږي؟ تاسې خپله اجازه ورکړه چې خلک مو له سره دا تاج ښکته کړي.
کله چې فکرونه یا خلک درته ووایي: تاسې په کافي اندازه جذاب نه یاست، همدې خبرې ته په غوره نظر وګورئ: نه! ډېره مننه، ته نه شې کولای زما له سره دا تاج ښکته کړې. زه پوهېږم چې خدای پاک زه په پوره غور او دقت جوړ کړی یم. زه پوهېږم چې په خپل ذات کې بې بېلګې یم.